جمهوری اسلامی افغـانستان
کمیسیون مستقل انتخــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# دټاکنوپه بهیر کې درسنیزو سرغړونو دڅېړنو کړندود

<u>بنسټ</u>
<u>لومړۍ ماده:</u>
دغه کړنلاردټاکنو قانون د شپېتمې او شپږ شپېتمې مادې د حکم پر بنسټ د ټاکنو دخپلواک کمېسیون له خوا د ټولنیزو رسنیودسرغړونواو تخلفاتو د څېړلو په موخه د ټاکنودبهیر په پړاوونو کې وضع شوی دی .

<u>موخې( هدفونه)</u>
<u>دویمه ماده :</u>

۱- دټولو رسنیزوسرغړونو اود ټا کنوپه مختلفوپړاوونوکې دحقیقی اوحکمي اشخاصوله خواد را رسیدلیو شکایتونو په ښه توګه څېړنه ؛
۲ – دټاکنو بهیر اعتبار ي کول او دروڼتیا تامینول؛

نوموني( اصطلا حات)
<u>دریمه ماده :</u>
دغه نوموني په کړندود کې د وروستیومفاهیمولرونکې دي:
۱- د رسنیوکمېسیون :هغه کمېسیون دی، چې دټاکنودقانون دشپېتمې ما دې پر بنسټ دټاکنیزو مبارزومنصفانه خپرول او درپوټ ورکولو دڅارنې او د رسنیزوشکایتونودڅېړنې په موخه دټاکنو خپلواک کمېسیون له خوا په لنډمهاله توګه رامنځته شوی دی؛
۲ – ټولنیزې رسنی: ددولتي اوخصوصي، چاپي اوبرېښنایي وسایلوله لارې د پیغامونواو خبرتیاوو لېږد ول ؛
۳ – تطبیقي تدابیر : ددغه کړندود له اجراییوي ضمانت څخه عبارت دی چې دپریکړې خپرول ، باور لیک ، اخطاریه ، داصلاح امر، نغدي جریمه له حا لت سره سم ترپنځه سوه زروافغانیو پورې اود عدلي تعقیب په موخه اړوند ارګان ته د سرغړوونکي معرفي کول؛
۴ ـ سرغړونه: دټاکنوله قانون ، کړندوداو نوروتقنیني اسنادوڅخه درسنیوسرغړونه اویا د سرغړونې اوتیري رامنځته کېدل؛
۵. تخطي: هغه فعل یا د فعل پرېښودل دي چې له امله یې د ټاکنو قانون او دغه کړندود کې تصریح شوې مواخذ دهغه مرتکب باندې اثر وکړي.؛
۶. اخطاریه: د رسنیو د پاملرنې او دهغوی د اصلاح لپاره د رسنیو د کمیسیون یوه رسمي ابلاغیه ده؛

۷.د اصلاح امر: له لومرني حالات څخه د خلاف وضعیت د بیرته راستنیدو په موخه د امر صدور؛
۸.نغدي جریمه: د متخلف او خاطي له خوا د نغدي وجهي د تاديي امر د دولتي هغه واحد حساب پراساس چې د رسنيو کمیسیون پواسطه ټاکل کيږي؛

<u>رسنیزې سرغړونې او تخلفات:</u>

<u>څلورمه ماده:</u>

1. د ټاکنو د قانون د نه پنځوسمې مادې تصريح شويو مکلفيتونو نقض؛
2. د هغو معلوماتو او مطالبو خپرول چې د هیوادوالو رواني امنیت ته زيان ورسوي؛
3. د هغو معلوماتو او مطالبو نشر او خپرول چې د ټاکنو د نوماندانو پر شخصي حريم باندې د تيري لامل وګرځي؛
4. د غيرمنصفانه ،نامتوازن اويا دچا په پلوئ د رپوټونو خپرول؛
5. د هر ډول غلطو مطالبو او څرګندونو چاپ او خپرول؛
6. د رسنيو د کميسيون د تصاميمو او پريکړو رعايت نه کول؛
7. هغه رپوټونه او مطالب چې د مؤثقو سرچينو څخه اخيستل شوي نه وي نشر او خپرول؛
8. د ټاکنو خپلواک کميسيون د مخکني باورليک له لرلوپرته د ټاکنو د بهير له پړاوونو څخه د معلوماتو او رپوټونو ترتيب او برابرونه.
9. د ټاکنيزو مبارزو د رسمي دورې له پيله مخکې د انتخاباتود کانديدانو د کمپاين نشر؛
10. دچوتيا په دورې کې دتګلارې خپرول، موخې،پا ليسۍ اونورهغه حالتونه چې په يوې نه يوې بڼې د نوماندانوپه ګټه وي؛
11. هغه نوماندان چې په ټوليزورسنيو کې د ويندويي اوچلوونکي دنده لري، اداري استازې اودولسي جرګې غړي له رسمي دندوڅخه په خپل ګټه کار واخلي.
12. نور هغه حالتونه چې رسنيزې سرغړونې اوتخلفونه وګڼل شي.

<u>د شکا يتونود څېړلو لارې چارې</u>

<u>پنځمه ماده :</u>

۱- دحقيقي يا حکمي شخص له خوا د شکايتونوهغو فورموډکول چې دشکايتونوپراساس وي؛
۲- دشکايتونودثبت په کتاب کې درارسيدلوشکايتونوثبتول؛
۳- ددا سې شکايتونوثبتونه اوڅېړنه چې درسنيوکمېسيون په واک کې دی اويا نه؟
۴ – دشکايتونواهميت اوصحت ، څېړنه او ارزونه؛
۵ ـ په شکايتونوکې دتشريح شويوحقايقوپه اړه تحقيق؛
۶ – حقوقي څانګه مکالفه ده چې:
- دشکايتونوپه اړه دې دښکيلواړخونوسره مصاحبه وکړي ؛

- دقضيې په اړه دې دټاکنوخپلواک کمېسيون تصويب شوي اسناد اود نافذه قوانينومواد عملي کړي.

٧ – دشکايتونودڅېړلولپاره دې د حقوقي ځانګې استما عيه غونده داير کړي؛

٨ – حقوقي ځانګه درسنيودځارنې له ځانګې څخه داړتيا پر وخت داسنادو غوښتنه کولای شي؛

٩ ـ درسنيو کمېسيون دغړو غونډې ته دتحقيق وروستۍ پايله ( نتيجه) او شکايتونه دتصميم نيونې په موخه وړاندې کېږي؛

١٠ – دزياتو څېړنو اوغور په موخه درسنيو کمېسيون حقوقي ځا نګې ته دشکايتونورجعت ورکول؛

١١ – دشکايتونوښکيلواړخونوته درسنيودکمېسيون دتصميم ابلا غول؛

داشخاصواواداري مرستې

شپږمه ماده:

دولتي اوغيردولتي اداري اواړونده اشخاص مکلف دي چې دشپږمې مادې له مخې درسنيو کمېسيون سره همکاري وکړي اوهغه تصا ميم او پرېکړې چې دغه کمېسيون يې دخپل واک په حدود کې کوي، رعايت اوپلي کړي.

تطبيقي تدبيرونه

اومه ماده:

د رسنيوکمېسيون کولای شي چې د سرغړونې اوتخلف له تثبيت څخه وروسته ، دسرغړونې اوتخلف دشدت او سپکوالي په پام کې نيولوسره وروستي تدبيرونه ونيسي.

١ـ متخلف ته داخطارلېږل اود سرغړونې داصلاح لپاره امر؛

٢ ـ د رسنيوکمېسيون له خوا دټا کنوخپلواک کمېسيون ته د خاطي اومتخلفې رسنۍ د صادرشوي باور ليک د اخيستلووړانديز؛

٣ ـ د متخلف اوخاطي رسنۍ له خوا درسنيود کمېسيون دپرېکړوخپرولودستور؛

۴ – د حالت سره سم د نغدي جريمې وضع تر پنځه سوه زروا فغا نيوپورې؛

۵ ـ دعدلي تعقيب په موخه اړوندوارګانونو ته د حقيقی يا حکمي شخص معرفي کول؛

تعديلات

اتمه ماده:

درسنیو کمېسیون دارتیا اوضرورت په صورت کې کولای شي چې ددغه کړندود کښل شوي موادو تعدیل ( کمښت اوډېرښت ) دټاکنو خپلواک کمېسیون ته پیشنهاد کړي.

انفاذ

نهمه ماده:

دغه کړندود د تصویب له نېټي څخه وروسته دټا کنوخپلواک کمېسیون له خوا نافذ دی.